# معصومه څېره

## دشهيد روحاني لنډ ژوند ليك

دزيږيدونېټه :      ۱۹۸۳ عيسوي كال

دمړګ نېټه:      ۲۰۰۸ عيسوي كال

**WWW.SAMSOOR.COM**

# د ارواښاد روحاني ژوندليك

ليکنه: د اطلاعاتو او کلتور پخوانی رئيس جانګل خان او احمد نويد نظري

عبدالصمد روحاني د هلمند د ګرمسير ولسوالۍ په لکړۍ سيمه کي زيږېدلی و خواصلي دنوزاد دشاه پشتې دسيمي دلنګر کاريزاو سيدونکی. او په قوم نورزئ وو او له څو کلونو راپدېخوا يې د لښکرګاه په ښار کې ژوند کاوۀ.

د پنځه ويشت کلن عبدالصمد روحاني پنځه وړونه. څلور خوندي پاتې دي.

له ارواښاد روحاني څخه يوه لورکۍ، دوه زامن او دوې مېرمنې پاتې دي او سپين ږيری پلار او بوډۍ مور يې لا هم ژوندی دي.

شهيد روحاني د ۲۰۰۸ عيسوي کال دجون دمياشتي په اومه نېټه ماسپښين دلښکرګاه ښار څخه دخپل موټر سره يوځای لادرکه سو او سباته يي چي دجون اتمه نېټه وه مړی دبولان په لويه هديره کي پداسي حال کي وموندل سوچي په ګوليوويشتل سوی وو.

عبدالصمد روحاني له تېرو دريو کلونو راهيسې د بي بي سي له پښتو، فارسي او انګريزي څانګو سره کار کاوه.

روحاني دخبريالۍ ترڅنګ ښه ليکوال او شاعر هم وو او دشعرونموني يي وجود لري.

اوښاد عبدالصمد روحاني په دغه موده کې د بي بي سي لپاره په روانو امنيتي، سيا سي او ټولنيزو برخو کې له هلمند نه خبرونه او رپوټونه برابرول.

ده په تېرو څو کلونو کې د هلمند بېلابېلو جګړه ځپلو سيمو ته په هر ډول حالاتو کې سفرونه کړي او د سيمې د حالاتو په اړه يې خبرونه ورکړي.

ارواښاد روحاني په هلمند کې د لومړي افغان خبريال په توګه له پژواک خبري اژانس سره څو کاله وړاندې کار پيل کړ.

دوطن اوخلکوپه زړه کي خوږ ژبي ځوان بااستعداده ژورنالیست عبدالصمدروحاني چي ترډیره حده یي دیني زده کړي ترسره کړي اودعصري علوموپه برخه کي یي دومره خصوصي زده کړه درلوده چي داوسنۍ پرمختللي نړۍ دلښسانس تردرجي یي زیات مهارت په لیکلو،ویلواوکمپیوټري سیستم کي درلود.

دځلانده ستوري په څېر یوځل پداسي حال کي راپیدا سوچي دخپل ښواخلاقو،لیافت،مهارت اوحوصلې رڼایي پرټول ولایت وغوړول.

زه هغه وخت په ولایت کي داداري مجلس آمروم،فکروکړئ دیو ولایت ټولي کمپیوټري چاري ده یوازي په یوه کمپیوټرپه ډیرزغم اوحوصلې سره داسي مخته وړي چي اوس هغه چاري ترلسوزیاتوکسانواوکمپیوټرانولخوامخته وړل کیږي،ددي ترڅنګ شهیدروحاني دپژواک خبري آژانس اوپه هلمندکي دیوخپلواکه راډیوسباوون سره دخبریال دنده ترسره کوله ،چي دډیرو نژدي اړیکواوخبرنګارۍ سره دمیني اوعلاقي له مخي یي زه په هلمندکي داطلاعات اوکلتورریاست دکارونوسمون ته وهڅولم چي بیادهغې اداري رئیس سوم.

خوچي زه به کله دده دفترته دکارلپاره راتلم دده دکمپیوټرپرصفحه به دډیروکارونوترڅنګ یوخبرپروت وو،مابه ورته وویل چي هله ګرانه روحاني دعاجل کاردی ده به په خپل خوږو حرکاتوراته وویل چي هله ته راسه داخبر وګوره رښتیاخبره داچي زه خوخبرنګارنه بلکه دلیک لوست نظم مي انشاالله یوڅه دی،مابه دی ډیرتشویقاوه خوبالاخره دخپل خدای(ج) ورکړي بې ساري استعدادله مخي دنړیوالي رسنۍ بي بي سي راډیوخبریال سو.

په خپل ډیرساده،لنډ،دمحتوي نه ډک،باکیفیته خبروړاندي کولویي دخلکوپه زړونوکي داسي ځای ونیوه چي ګواکي دهرافغان دزړه اوغوښتني خبربه یي خپراوه.

دخلکودزړه ژورنالیست روحاني داسي شهرت پیداکړ چي دخلک یي لیدوپه تمه وه ،په ولاړه قسم یادوم په یومجلس کي به دی ماخلکوته معرفي کړ چي داروحاني دی هغه به یي په خواږه مجلس نه مړېدل او دده څخه به یي دخوږوخبرودجوړولواومعلوماتونودراټولوپوښتني کولې چي ته داخبرڅنګه جوړوي اوڅنګه یي وائې؟

بااستعداده روحاني دخپل شهرت په موندلوڅه موده دهیواد دجنوب لویدیځې حوزې په کچه دبي بي سي راډیو خبریال وو.

په هلمندکي داسي فرهنګي فعالیت نه وو چي روحاني صاحب به پکښې نه وو ،روحاني صاحب په هلمندکي دبُست فرهنګي ټولني اوژورنالیستانودټولني دبنسټ ایښودونکوله فعاله غړوڅخه و چي دده په موجودیت کي دآټولنه اواتحادیه ځلانده وه که نه په نه موجودیت یي پرتاثیرهرافغان ښه قضاوت کولای سي.

شهیدروحاني دخلکواووطن ریښتنی خدمتګار،صادق اووفادارافغان وو ،تل یي دظلم ،بې عدالتیواوبې قانونیوپرورَاندي مبارزه کول اوخپل خوږ ژوږه یي دناخوالوپه وړاندي خواړه.

که واقعیت ته غاړه کښېږدولکه چي وایي که چایوحرف چاته وښود ،هغه دهغه چالارښود یااستاد ګڼل کیږي که څه هم دلیک لوست په نظم کي ګران روحاني له څخه ډیري مشورې غوښتې خودخبرجوړولواوخبرنګارۍ په برخه کي زمااستاد دی.

زه دخبرجوړولواو ویلوته ده تشویق کړم چي آن تریونیم کال پوري دملي راډیوټلویزیون ته دهلمندخبریال پاته سوم،چي ددي خبري تصدیق کونکي دهلمندټول خبرنګاران دي چي په میډیاسنټریامطبوعاتي مرکزکي به مي دده ترکنترول وروسته دآزادی دراډیوپه خبرنګارګران محمدالیاس داعي اویادشمشادتلویزیون په خبریال ګران احمدنویدنظري مي خبرثبت اوملي ټلویزیون ته انتقالاوه.

صمدروحاني باابتګاره دښه استعدادخاوندوو ،شعراوشاعري سره یي ښه علاقه درلوده،په هلمندکي یي د(۱۳۸۷) کال دثوریاغوایي دشپږویشتمي نېټې دهلمندڅپاندسیندمشاعرې په جوړولواومخته بېولوکي ستررول ترسره کړ اونوروکوچنیومشاعرواوناستوکي فعاله برخه لرله.

عبدالصمدروحاني زمادیر نژدې ملګری وو ،تل به هرمازدیګرزماکورته راتلی اپه ډیره مینه به یي څه خوراکي توکي راسره خوړل اوکله کله به یي دبانډارلپاره په مبلې په توګه ټول ژورنالیستان دمیلمستیالپاره زماکورته راویستل ،دټولوژورنالیساتودمجلس ځراغ ؤ،کله چي دی تللی بیامي د ژورنالیستانو مېلې، مجلس او بانډار د مېلې په شکل ندی لیدلی.

هوکې دوی خواشیني دي بانډ ارته یي زړه نه کیږي.

صمدروحاني دهغه مفکورې له مخي چي زړه کړه دزانګوڅخه ترګوره پوره لازمه ده دانګرېزی ژبي په زده کړه بوخت وو.

ماده ته دژورنالیستانودسردارلقب ورکړی وو،له بده چي شپې ناوخته احمدشاه پاڅون دخبرنګارانو ددفترمشرصمدروحاني دورکېدوخبراکړ چي سمد ستي مي دولایت مقام ،امنیه قوماندانی،ملي امنیت ریاست اونورو اړوندو ارګانونواودروحاني دوستانواوملګروته خبرورکړ،په خواشینی دراتلونکي ورځي ماسپښین مي خبرتلاسه کړ چي دصمدروحاني مبارک جسددبولان په هدیره کي پروت دی.

سمد ستي مي امبولانس ته خبرورکړاودهدیرې په لوري مي حرکت وکړچي دانسان اوانسانیت دښمنانودګران روحاني لاسونه ترشاتړلي اوغاړه یي په چاړه پرې کړې اوپرسریي په ګولیوویشتلی وو،اوجسد یي په یوه چهاردیوالي کي ایښی وو.

دروحاني مبارک جسد موبُست روغتون ته راوړ اوپه سبایي کورنۍ دشهیدروحاني مړی پخپل پلرني هدیره کي دښخولولپاره مارجې سیمي ته یوور.

راځودې ته چي دروحاني خوږ ژوندچا واخیست؟ دې سوال ته په لومړي سرکي ددولت ټولولوړپوړوچارواکوپه ډیري ګرمۍ ځواب ووایه چي موږبه دروحاني قاتلین کشفوو،دروحاني خوږه کورنۍ اودوستان یي دفراق په لمبوکي سوځیږي.

دروحاني تشه به بیاپه هلمندکي څوک ډکه نه کړي که څه هم په ملي سْطحه خبرنګارانودروحاني پرروان او کړونو اوو‌ژني ډیري غونډي اوهلي ځلي وکړې خوچاځواب ورنه کړ.

دشهیدروحاني څخه دوې مېرمني ،دوې لوڼي اویوځوی پاته سوه،چي ترمرګ شپږمیاشتي وروسته یي بل ځوی پیداسو،دلوی خدای(ج) څخه غواړوچي دروحاني په څېرددي وطن ځلانده ستوري سي.

غوښتنه مي داده چي ژورنالیزم دمکتب پلویان دي دګران روحاني یاددځان سره ساتي اودتلین کلیزه دي لمانځي.

# سریزه

داسي ببغمي دي خدای پیدانکړي په هیڅ کورکي

یوکورکي چي ویروي اوبل خاندي دلیلا سره

(مرحوم استادګل پاچاالفت)

رشتیاهم ویرهغه توره او وېره ونکې بلاده چي دژوندپه اکثره برخه کي وانسان ته خپل ځان پخپله ناوړه اوبدرنګه ښېره کښې ورښکاره کوي اودناأمېدی وډګرته یې راباسي.

کله ناکله خوبیاسړئ پداسي درنه ښېږه ووهي چي آن دځکندن تروروستۍ لحظې پوري دغه ګذار دچانه هیرېږي.

په نړۍ کي به ډیر په ټیټه کچه داسي خلک وي چي پروجود یې دویر زلزله نه وي راغلې،البته داسي کسان بیادانساني کرامت په ارزښتونواوقدرباندي هم نه پوهیږي اونه باندي خبروي.

موږدګران هیواد افغانستان څه باندي دیرش کلن ویر اوماتم داسي سخت ځپلي اوځورولي یو چي تعبیریې هم نه سوکولای.

هره لحظه غم دی هرساعت پرېشاني ده اوهره ورځ نوي نوي عذابونه دي چي یوکډه وکړي بل راته راسي خاوره مودپردیوپه لمسون استعمالیږي.

مخور اوملي شخصیتونه مو راوژني عالمان اومنورین موپه یوه اوبل نامه بدنام سول.

دځوانانودسرلوشروع دی،دماشومانوغوښې مودبمباری اومینونوخوراک سوې،میندي اوپلرونه دویرساندي وهي ورېندارګاني موکونډي سوې یو ورور دبل ورور دوینې تږی دی یوپربل دکفراو تروریست ټاپې لګول کیږي.

اولس دفاتحي پرتېغرناست دی ،اتفاق اويووالي کډه وکړه دحقيقت سترګي ړندې سوې،دهشت او وحشت پرمستۍ راغلی دی ،خوشالي اوخندا په ژړا ګانوبدله سول.

صله رحمي خوبښخي د اووکوټودننه دنفرت ترشال لاندي خوبونه کوي.

رشتياويل خوڅوک له ډاره څخه ويلای نسي بيايي سرغوڅيږي.

دلته په افغانستان کي دچاخبره په ناکرارستان ولايت کښې دشاعر،ليکوال اوخبري رسنۍ معرا ياسپيني خبري دسرپه زيان اودمرګ په زېري تماميږي چي ښه بېلګه يي دعبدالصمدروحاني وژنه ده.

هودادهغه ځواني مرګ شهيديادونه کوم چي په ۱۳۸۷لمريزکال کي ئي دجوزا پر ۱۹ نېټه دتل لپاره زموږ سره مخه ښه وکړه اود ابد لپاره يي ددي نابودي نړۍ څخه سترګي پټي کړې

(انالله واناالیه راجعون)

فکرکوم چي تاسوبه اکثره د روحاني شهيددخبرې اونامه سره آشناياست اوډيروخلکوبه زماپه آندله نژدې څخه پېژانده،هغه ډيرزړه سواندبشردوست اومينه ناک انسان وو.

ترکومه ځايه چي موږ خبريو روحاني له چاسره ذاتي اوشخصي دښمني نه لرله نه يي دچاپرحيااوناموس تيری کړی وو ،نه يي دچاکوراوپټۍ په زوره غصب کړی وو ،يوازي دايي لويه ګناه وه چي خداي بخښلي روحاني ددي بدبخته اوکړېدلي ولس دپرهارونواوساندو اوآن دنړيوالوترغوږو پوري ورساوه خوبدبختانه داسلام او وطن دښمنانوزموږ له سره څخه داسيوری واخيست اودخپل ځان په وينويي سور اولړند کړ.

موږ دانه سوويلای چي دچالخوابه په شهادت رسېدلۍ وي خودومره ويلای سوچي څومره ډالربه يي دروحاني شهيدپرشهادت اخيستي وي،افسوس دي وي دداسي کسانوپر حال چي يومعصوم اوبې ګناه انسان په قتل رسوي اوبياهم دانسانيت لافي اوشافي وهي.

خدای بخښلی روحاني دخبريالۍ ترڅنګ دپښتوژبي نازک خياله اوفطري شاعروو ،موږترخپل توان اوطاقت پوري زيات کوښښ وکړ څودروحاني منظوم کلام راغونډکړ،يوه ټولګه ورځني چاپ کړو په خواشينۍ سره بايد ووايو پدي کارکښي موږ ونه توانيدوچي دنوموړي اثار به دچاپلاس کښې وي خوشبختانه هغه دوستانوچي دهيواده بهراودننه کښې دروحاني شهيدمرثيې ليکلي وې هلمند کلتوري ادبي ټولني دا وياړ په برخه کړ چي دامرثيوته دکتاب شکل ورکړي چي دشهيدروحاني نوم دتل لپاره ژوندۍ اوخوندي پاتي سي.

داکار باید دده لومړي تلین ته سوی وای ،البته د ډیرملګرو شعرونه زموږ ترلاسه په ځنډ راورسیدل ،دځه ناځه اقتصادي او تخنیکي ستونزوسره مخامخ وو ،هیله ده چي عذر مو ومنئ.

هلمند کلتوري ادبي ټولنه تل دخپل ملي اتلانو قدر او درناوی کوي،اوزیارباسي ترڅو ددوی نومونه دتاریخ په زرینو پاڼوکي ثبت او ولیکل سي.

دیاده دي نه ووځي چي یوشمیر دفرهنګ مینه والو دهمدې کتاب په چاپولوکي زموږ سره نقدي مرسته کړې ده چي هلمند کلتوري ادبي ټولنه ورته دزړه له کومي کورودانی وایي اوددوی دلازیاتوبریالیتوبونو هیله لري.

دلته موږهڅه کړې اوداروانښاد عبدالصمد روحاني یوڅوشعرونه په لاس راوړي اوغواړوچي درته وړاندي یې کړو.

په درناوي

هلمند کلتوري ادبي ټولنه_لښکرګاه

# د رڼا ځرک

شاعر: شهید عبدالصمد روحاني

داتورې شپــــې دي رڼوو يي په سبا پسې ځو
هلته يو ځوک دی يو څه وينو بس پدا پسي ځو

لاره تياره ده هيڅ نه ښوه په لاس کې نه لرو موږ
موږ ليوني خــــــولويه خدايه په رڼا پسي ځو

مينــــــــــــه لرو مينه پالو د ميني قدر کوو
صحراته وځو د مجنون غوندي ليلا پسي ځو

قاره خدايه ! موږ ته دومره بيايي نصيب کړه
چــــــــي لاره وينو او ټول وايو آشنا پسي ځو

(روحاني) هله به موږ خپل ننګ او ننګيالي وګټو
چي دنيـــــــکه توره راواخلو په بابا پسي ځو.

۴_۱_۱۳۸۴

کابل

# غزل

شهید عبدالصمد روحاني

راځه ولاړ سو و مسجد ته قرآن به سره ښکل کړو
غېږ به سره ور کړو خپل مخان به سره ښکل کړو

زه به خاندم ته هم خانده سره ځو به لاس ترغاړه
پر سر به سره ښکل کړو او چشمان به سره ښکل کړو

ته زما په قول وکړه زه به ستا امر منمه
غماز به کړو سر کو به خپل امان به سره ښکل کړو

رقیب به کړېدلی شرمېدلی راته ګوري
پرو به کړو وار ونه خنجران به سره ښکل کړو

د تورو شپو کارونه تل ترتله وي نیمګړي
په سپینه ورځ راووځه پر میدان به سره ښکل کړو

رښتیا چي (روحاني) په مینه هرڅوک خپلوای سو
راځه په مینه مینه د جهان به سره ښکل کړو.

# غزل

عبدالصمد روحاني

يو عجیــــــــــب زمانه وه چي خوب نه وو خوبان نه وو
نابـــــــلـــــده غوندي ښاروو چي زړه نه وو ارمان نه وو

کیږدی نه وې، دښتې نه وې، پېغلې نه وې، ګودرونه نه وو
شپونکی نه وو ،شـــپېلۍ نه وه، نارې نه وې، اوښان نه وو

ګرمۍ نه وو ،یخـــــــنۍ نه وه، باران نه وو، هوانه وه
سپرلۍ نه وو غوټۍ نـــــــــه وې ګلاب نه و ګلان نه وو

مسجدنه وو، امام نه وو، دعـــــــــانه وه، واعظ نه وو
ددې مځکې غرومبهاروو وريځ نـــــــه وه، آسمان نه وو

مینه نه وه، حسن نه وو، مین نه وو ،ښـــــــایست نه وو
وصال نه وو ،رحم نه وو ،خندانه وه جـانــــــــــان نه وو

شاعرنه وو ،شعورنــــــه وو ،کــــــتاب نه وو غزل نه وه
(روحاني )نه وو ،قلم نــــــــه وو ،کاغذنه وو ،یاران نه وو.

# دروحاني غمونه

--

سردار محمد سروري – هلمند

مـــــاله ته هيڅ خـــــوشالي نسې راوړای
اختره څــــه لــــه زمــــوږ پرخوارادرومې
زمــــــاديتيم اوښـــــکي لاوچې نـــدي
څنــــګه بـــياژر زمـــــوږ پرخـــوا رادرومې
مــــايي لاغـــــم زوړکـــــړی ندی ګـــوره
بـــيواره ژرزمـــــــوږ پرخـــــــوارادرومې

--

ته بــــه دڅـــــان ســـره لرې خــــــوشالي
مــــــاژړوي دروحـــــــاني غـــمونه
ستـــــاوراتـــــلوته هرســــــــړئ په خندا
ماکړوي دروحـــــــاني غــــــــــمونه
يوروی دخـــــــدای(ج)بل درسول وګوره !
مــــــانڼوي دروحـــــاني غــــــمونه

--

په اوښــــــکو لوند زمــــــا ګـریوان وګوره
ولي راځي په غمـــــــــځپلو خـــلـــکو
تــــــاته لازور دغـــموندی مـــعـــلوم
ولي راځي پـــــه ځـــــوربدلو خــــلکو
زمـــــــوږ د آزاره دي هــــيــــــڅ بيره نسته
ولي راځي پـــــــرغـــــم لــــــړلو خـلــکو

--

نه غــواړم ستاهيڅ خـــــوشـــــالي اختره
دجــــــانــــان يادمي تـــل په زړه کي ګرځي
ګـــــــريوان دي زما خـــــوارکي ونه ګنډئ
ارمـــــــــاني يارمي تل په زړه کي ګرځي
ســــــــــره په نکريزو لاس دي نه غواړمه
روحـاني يـادمي تـــــــل په زړه کي ګرځي

--

ستــرګي يي سرې تل د (درويش) وريسې
هم په ژړا نـــــاست (مينه يار) وګـــــوره
(حيرت)غـــــــريب نن کـړئ غموليونۍ
نن په فــــــريادناست (ستوريانۍ)وګوره

(احساس، پـــوپل، احمـــدي) واړه ژاړي

هـــم په ژړا ناست(رنـځوريار)وګـــوره

--

دې درانه غم (مـــظلوميار) ولـــــړځاوه

(عـــاشـــق، واکمـــل) وڅځولي اوښکي

ارمـــــاني پاته پردنيادي کــــړو مـــــورې

خـــــوار(محمدي)هـــم بهيولې اوښکي

تـــاتـه وي نـــاست لاس په دوعـاملګري

(ســـــروري) تاته تـــــويولې اوښـــــکي

--

زمـــــادهلـــــمـــــند دســـــردرو بلبله

زمـــــادوطـــــن دهسکوغـــــــــروبلبله

داچـــــــي ته نه يې هـــــرڅه ښـکاري خالي

زمـــــادنـــــيـــــمګړو ارمـــــــانوبلبله

((ســـــروري))تاباندي کـــــــوم افتخار

زمــــــا((روحـــــاني))دخـــــــزانوبلبله

# درویش خوندی لښکرګاه

معصومه ثېره

چي وهرلـــورته په دوو سترګو ثارکومه ګرانه
مخ ته مي راسي ستاد ګل په شان معصومه ثېره
راز د تـــصویر دي راته هره لحظه داسي وایي
چي وجهان ته مي ښـکاره کې زما مظلومه ثېره
فقط یو ګل وم تـــوکیدلې د ثوشپو لپاره
ما د پـــوره ژوند پرډګـــرنکړه معلومه ثېره

—

لذت مـــي نه واخیست ملګرو د بوډې د ټاله
لکه یتیم چـــي وي مانع د پلار د خونده ثخه
لکه یو اوښکه چي د ستـــرګو پرباړخوراتوی سي
یوه شېبه مي تضمین واخیـــستې له ژونده ثخه
ګل دلاله سوم درثه ولاړمـــه د خدای په امان
ما ځواني مرګه ځوانـــي یو وړه د هلمنده ثخه

—

ستاد دي ښکلي نازنین انځورثه داسي ښکاري
لکـــه بچې چي د مورکې له غېږي باسي جلاد
او هیـــڅ ګناه یي نه وي کړې نې وي جرم معلوم

غیـــــــري ناحقه خون په غاړه کي بلا سي جلاد

دخیـــــراتي دروړ په شان دي زنده ګي سي کوتاه

داسي دي خپل پرځواني باندي نیمه خواسي جلاد

—

برایـــــي خوب کښي ګران شهید راته ویله داسي

بیابـــــــــه درږغ نکړم په ماپسي دوعاوي کوئ

بیابـه در ږغ نکړم که چپ یاست که خنداوي کوئ

بیـــــابه در ږغ نکړم که شپه او ورځ ژړاوي کوئ

بیـــــابه در ږغ نکړم که ماپسي ښېراوي کوئ

بیابـــــــه درږغ نکړم که نفل که حلواوي کوئ

--

خــــــــالــــقه ستادبندګانو څه ګیله لرمه

ماخودهیچاحـــــق په زروه غصب کړی نه وو

زمایي پرڅه بانـــدي دغاړي ښارګونه کړه پرې

ماخپل په عمرپـــــــه څپېړه څوک وهلی نه وو

ماونړی ته دغـــــــــــــریب ولس اواز رساوه

ماخودچازوی په توپک بـــاندي ویشتلی نه وو

لاسونه پښي مي ټینګ تـــــړلي اوپه غاړه زندی

مادانسان قتل په څوکســــــــــولیدلی نه وو.

--

ما دځوانۍ فصلو بهارته لا خندلي نه وه
دژوندانه بسمل مرغه مي په قفس سو بندي
زما پريتيم ماشوم بچي باندي مي وايا ست سلام
چي روحاني دقبرستان دلوی محبس سو بندي
نظر مي ستا سو پر طرف لکه محتاجه سائل
نور له ما صبر سئ دروح شيرين جرس سو بندي

--

پر ما يي ولي ګران بابک او مور کړې وژړول
زه به په ورځ دمحشر خپل پرېکړې سر راوړمه
چي خدای قاضي وي پاک حبيب مو شفاعت ته راسي
بيا به په لاس کښي زما دقتل سور خنجر راوړمه
څنګ ته به ودروم کونډه او يتيم ماشومان
پارچه پارچه او دغلبېل غوندي ځيګر راوړمه

--

درڅخه ولاړم ناچاري وه نور مي مه لټوئ
دلته بې رحمه زنده ګي وه نور مي مه لټوئ
لکه يوه ابښمه دباران ستاسو پر کلي راغلم
ديو څو ورځو مهماني وه نور مي مه لټوئ

ماچي صادق ګڼل هغو مي اخير وينه څښل

همدا د دوی مهرباني وه نورمي مه لټوئ

ګلګون صورت مي په ازل کښي ۇ قلم ليکلی

داپه نصيب زما روحاني وه نورمي مه لټوئ

دې ښار کښي پاک سپېڅلي خلک بېخي نه خوښوي

دلته رواج بې وفائي وه نورمي مه لټوئ

يوه دوعا درځه ((دروېشه)) دا خلاص غواړمه

دامي دخدای په اماني وه نورمي مه لټوئ

داروانښاد دشهادت په ورځ

## د پښو چغار

يوسف خدمتګار

سره ګلونه مړاوي کيږي چي بهار ځي

زړه مي سوځي چي مې اوښکي په رخسار ځي

رنګ مي ورځ په ورځ زيړيږي راته ګوره

بيله تانه زما روح زما قرار ځي

په هرول کي يي دڅښو زړونه بند دي

دښو غشي واريږي چي په لار ځي

دلته شخړه د ضدینو ناورین جوړ دئ
شنه طوطیان له ګلستانه په چغار ځي

طبیبان یي په اعلاج کي پاتي راغلل
سي د زړه په رنځ اخته بیرته بیمار ځي

تاج په سر د لیونتوب کړه که پوهیږئ
چي ناپوه درله درځي درنه هوښیار ځي

د واعظ دروغ او رښتیا سوله څرګنده
د پښو چي تر محراب پوري چغار ځي

عاشقان به بریالئ غېږه په غېږ سي
چي ډګر داز موینې له په وار ځي

خدمتګار به یي نور څه نصیحت واوري
محتسب او ذاهد بارله په تلوار ځي

محمد نعمان دوست-کابل

# دګلاب قتل (مرثیه)

روحـــــــــــانی ځینې خبر سوې؟ چاوژلی
هغه ګل یې په ســـــــــــــــــرووینو لمبولی
زه پوهیږم، دا خبر منـــــــــــــــــلی نه سئ
دګلاب قتل څـــــــــــــوک کله سې منلی

--

خـــــــــــوقسم دی روحانی یې راته وویشت
هغه ځــــــــــــوان لاشانی یې راته وویشت
په هلـــمند دچـــــــــــــاګلان نه پېرزوکېږي
بس یــــــــــــوګـــل وبیابانی یې راته وویشت

--

روحـــــــــــانی اوس په سرووینوکې رنګین دی
ترمې-ترمې مړاوی ګـــــــــــل پروت په زمین دی

اوس هغه سترګي حيرت نه کتی نسي

خپل قاتل ته فکروړئ دی غمګين دی

--

هغه دنګ قد په ملامات سو، راګوزارسو

دخپل ځان په وينو سورلکه انارسو

خپلي حوري يي په دي دنياکي پرېښوي

په جنت کي کومي حوري ته پکارسو

--

خبرنه يي؟ اوس دګل قتل اسان دی

بي مالي زموږه باغ زموږبوستان دی

هرډنډرکي غشی ښخ اوسريي نسته

زموږکوراوس دګلونوقبرستان دی

--

روحاني ملګريه ! سپينه راته وايه

لکه تيرهسي په مينه راته وايه

داکوم زړه وو، چي پرتايي ماشه کش کړه

همدغه خبره سپينه راته وايه

--

ګرانه ! ناوې دي په سروسترګوژړيږي

ګـــرانه ! زوی د ي لـــکه ګـــــــل هسي رپيږي

ته خـــبـــــريږې؟ په هلمند کي نـــــن قيامت دی

اســــــويلي لکه اورونــه پــــــورته کـــــيږي

--

روحـــــــاني ملګريه ! ځه الله دي مـــــــل سه

په مـــــــزارکي دي څــــــــراغ دايمان بل سه

ابدي ژوند دي دســــــــــتوري په شان رون سه

ستاقاتل په ســــــــترګوړوند په غــــوړوکوڼ سه

روحاني چاشهيد کړ؟

هغه پــــوري سپيره کـــــلي کي

يو څـــــوسپيره کورونه ښـــکاري

په ډيـــــروکي اورونه بـــــــل دي

دې کلي تور دودونه ښکاري

يو کورګي پدغه کلي کي

لويدلي يي بامونه ښکاري

څه پېښه هغه کورکي سوې

چي رنګ يي ديوالونه ښکاري

څو ورځي يي اور، نه بليږي

تياره يي دالانونه ښکاري

دغه وران له وينو ډک کورکي

يو څو ببر سرونه ښکاري

له چانه مي پوښتنه وکړه

دي کورکي ډير غمونه ښکاري

دې کورکي يوه مورکۍ په ژړا

يوه ناوې سره لاسونه ښکاري

هلته ! دوه ګـــــــلالي ماشـــومان
شــــــــکيدلي ګـريوانونه ښکاري

داکـــــــوردروحـــاني شهيد دی
غمــــجن پرې آسمانونه ښـــکاري

ماوې، دابې ازاره چـــــــاشهيد کړ؟
وې، قاچاق برداېروئنو ښــــــــکاري

مـاوې ګمان کوې کوم بل څوک به وي
وې، دښمنان دمســــــــلمينو ښکاري

ماوې، خو اوس کمونيستان ورک سوي
وې، کوم قاتل دمـــــــلتونو ښکاري

ماوې، دغه قــــــاتل کليمه وايي؟
وې، په جېبو کي ډالــــــرونه ښکاري

ماوې، پرېمېږده چي ښــــــه ډيروژاړم

راته ډيرليري ســـــــلامونه ښکاري

٩\٦\٢٠٠٨

<--[endif]--! ><--[if !vml]--! >

-_______________-

ستاښکلا

کـــــــله رسي ستاښکلاته که غاټول دي که ګلاب

داپيښي دي خـــــــوشي تشي ســـــتادحسن دشباب

ستـــــاخوږو، خوږوخـــــبروکي مستي ده څومره ډيره

چي مـــــــــــوندلي چيرته نسي جامونه په شــراب

ســــــــتاوينا خــــــوږه له شـاتودخوږمنوزړو ملهم سي

دخـــــــــوږې ميني پيغام ده د وروری يوښکلي باب

زه یـــــــوبوټي یم بې سېــکه د خزان بادونو سوي

ته باران ته مي سپرلی ســه ته مي ژوند سه ته مي آب

دواړه سترګي مي ړندې سه چي له تابل لورته ګوري

ته مي لوري دژوندون یې ته مي سوال ته مي ځواب

راسه ! وینه مي سه ساه سه په رګونو کي مي خپورسه

وسیله مي دژوندون سه هم مي وېښه سه هم خواب

زه ف- ث به بختوریم کي مي ســتامینه نصیب سي

که مي ته غزل ټپه سې که مي ته حـــساب کتاب

ډاکټرفیض الله ثاقب- ۱۳۸۷

محمدلایق سرفراز- ۸\۱۱\۱۳۸۷

داخـــــومره تــــــرېځ دانسان دوینو

داســــــــــوداګردي سي تباه پخپله

په حـــــــشرګاه به خدای ته څه ووایي

هلته نه توره نه ټـــــــــوپک چلېږي

مورکۍ یي ژاړي پلاریي پروت په ماتم

په کورکي پاته سـوي کونډیاني دځوان

دروحـــــــــاني سـره مـووکړی ظلم

ارمـــــاني ولاړی ګــورستان ته مظلوم

ښـــــــکاري ظالمه تاپرڅه وویشتئ؟

دادفـــــریادپه نـــــاروسترۍ بلبل

دغـــــــــه وحشت دي شفقت نلري

دې تـــــــه انسان ښخي ویـــــلای نسو

رب مـــــوږانده کړه هم په ژبه ګونګیان

چي دام ګیرنکړئ یـــــوبل داسي ګُل

شـــهيده ! ستاروح تـــه لېږمه سلام

ستا يـــادګـــاربه وي زرين ليکلی

ســـرفــــرازنورپه قـــدرت ندی زما

دايـــــوځوبيته مې دالئ کـــړل تاته

<!--[if !vml]--><!--[endif]-->

څلوريزه

زړونه مـــات ښيښنه سو ،بيابه يي څوک جوړ هغه رنګ کړي

درز بې هيڅکله ورک نسي ، کې نقاش ســـل ځله رنګ کړي

دادوبرېتکری نن بياچـــــاورپرسرکئ خـــــوار هلمندته

چي په غـــــاړه يي لونګ و روحـــاني څوک به لونګ کړي

******* عطا محمد سيلاب-هلمند *******

څوک دئ دغه ځوان چي په سرووينوکي لژند پروت دی؟

ســـــوری لکه غلبېل پرخړوخاوروزخمي تن پروت دی

لاس يي د وحشت په ګـــــــــوتوچاورته تړلی دی

ښکاري ژړبلبل زخمي سينه نازک بدن پروت دی

اوښکي يي ملغلري څڅېدلي دي ومځکي ته
غرق لکه خوناب په خپل سرو وينولالهاند پروت دی

ښکاري يي په خوله کي څوورې ورې سلګۍ راته
دالکه چي خوار ژړ روحاني پرځکندن پروت دی

وينم يي زخمونه دګوليو پرښايسته بدن
يودچړې زخم يي پرسپين نازک ګردن پروت دی

څه به درته وايمه مرګيه دادي څه وکړه
زموږ ګل روحاني نن په لحد کي زندوبند پروت دی

ولاړې يوبلبل مودبوستانه نن زهيرولاړئ
ځکه په ژړا اوپه فرياد ټوله هلمند پروت دی

پام کوه لحده ته خبريي څوک مودرويستی؟
غيږکي دي بشريونازولۍ آرمانجن پروت دی

ډیر خیال یې ساته چې اوس یې ته رانه زهیر نکړې

یـــولاس یې پرزړه بل یې دګران زوی پرلمن پروت دی

غــــــــواړئ رانه اوس ملګرو دعــانو رخه به څه وکړي

نن ستا ســـو دعاته کــــــږې سترګي آرزومند پروت دی

وچې ســــولې اوښکي دسیلاب سترګو کي وچې سوې

غم دروحــــــاني یې په زړه ګي پوري پیوند پروت دی

<!--[if !vml]--><!--[endif]-->

رفیع الله ایثار   هلمند ۱۳۸۷

شهید روحاني

چي بلبل موله بوستانه ولاړې ولاړې
روحاني لدي جهانه ولاړې ولاړې

ټول وطن او ټول ولس پسې ژړیږي
خپل مولت او خپل مکانه ولاړې ولاړې

په ډیر ظلم یې شهید کې ظالیمانو
خپل د وروو او هر افغانه ولاړې ولاړې

د تقدیر ناري یې پورته سوې آسمان ته
لدي دهر او کاروانه ولاې ولاړې

په وحشت یې دی وژلی ښایسته ځوان وو
هم لدې فاني دنیانه ولاړې ولاړې

نه پوښتنه نه بازخواست له چاسه کیږي
لکه وښکه دګریوانه ولاړې ولاړې

دخـــــزان بـــادرا روان دی تـــــول رژیږي

ښایسته ګـــل دګـــلـــستانه ولاړې ولاړې

یم (ایثار) خـــــدایه جنت یي ورنصیب کړې

په خپل ژوندکي لـــــه جـانانه ولاړې ولاړې

سراج الدین احساس-هلمند

هغه دګـــــلي هـــــدیره کي چي ښکاریږي شمعي

دروحـــــساني شهید مـــــزار بـــاندي بلیږي شمعي

احساسه مـــوږسره راځه تیاروکي ژوند کـــوه نور

چي دوطـــن په مسته مینه قـــربـــانیږي شمعي

درڼاګـــــانودښمن بلي ډیـــــوې کله پریږدي

وخت هـــاغه ندی چي پړکیږي اوخندیږي شمعي

تـــــورمـــــاښامونه سول دیره دتورتموپه اسمان

ستوري په مځکه راپرېوزي پرژړېږي شمعي

اوس هاغه شمعي د محفل درنا شمعي ندي

د زړګي ويني خوري دود يږي اوبليږي شمعي

ټغر دويرراته په کوره لحظه غوړيږي

چي د محفل غېږکي يو بل پسي ژړيږي شمعي

پتنګ له بيا ګوندي جذبه د سوزېدلو راسي

ايره ايره چي په لوګولوګو سوزيږي شمعي

احساسه کشکي کاروانونه بياد شمعوراسي

چي هر قدم کي دوطن راته ځليږي شمعي

بازمنګل

ښنګه راغلې غلۍ غلۍ چي جانان دي راځه يووړې

د دي باغ د ښانګي ګلؤ قدردان دي راځه يووړې

د هلمند دلوړاو فوقه ثه راولوېدئ يو ستورى

ټول وطن تياره تياره سو ثراغان دي راثه يووړې

ندي عجزنه زاري دى دي دخوار واوريد ظاليمه

دموركۍ دزړه ټوټه وه په طوفان دي راثه يووړې

نن دي بيالا سونه سره كړل دمظلوم په پاكو وينو

په زړه سورى دا روحاني دي په ارمان دي راثه يووړې

خدايه ته خويي رسوا او شرمنده دظاليمان كړې

روحاني خونين ځيكر لعل ومرجان دي راثه يووړې

قلمياره دصياد په تور كي خوار مظلومان ګيردي

دادبازغوندي منګل كي دي شادان راثه يووړې

<--[endif]--! ><--[if !vml]--! >

آدم صفت الله هلمند ۱۳۸۷

شهید روحاني

یو ګل ؤ په غوټۍ کي د خزانه سره ولاړ

د ډیروزړو سکون ؤ دارمانه سره ولاړ

پداسي ځکندن کي ځوسلګۍ د روحاني وې

یو ځاځکۍ د شبنم ؤ د بارانه سره ولاړ

د عمرپردیسیو دي له ځان سره بیولۍ

په تللو قافلو کي له کاروانه سره ولاړ

د ځوان عمرپه سرکي له یارانو راجدا سو

یو ځپه د سمندر وه له طوفانه سره ولاړ

پرشوندو یي لاپاته ځووعدې وې د لفظونو

ځوانیمرګ یې وعدې ســــوې د پیمانه سره ولاړ

آدم صفت الله ورپسې دوعــــــاکـــــــــوه الله ته

یــــــــواوښــــــکه وه د سترګو د ګریوانه سره ولاړ

شاه ولي زيارمل

روحــــــــاني پسې مـــــــدام خلک ژړيږي

يو ګړی اويو ســــــــــــاعت يې نه هيريږي

روحـــــــــــاني هم له دنياه څه کـــړه وکړه

پرمــــزاربــــــــاندې ئې شني جنډې رپيږي

عــــــــالمونه ورته تـــــــل لاس په دعادي

اوښـــــــــکي ولاړې سيـــلابونه سوه بهيږي

کوم ظـــــــــالم ئې دژوندون ډېـــــــوه وژلې

سـخت بيلتون دى چي پرموړباندي تيريږي

په دوزخ کي يي مــــدام لــــره خــاونده
چي دښمن يي په ســــره اوركي وسوځيږي

دهلمند ښکلى ګـــلاب وو چي خـزان سو
داافسوس دى چي ګـــلونه خـــــزانيږي

استوو يي صـــــدقه دروح خـــوښى ته
په خيرات دمُــــــردګانوروح خـوښيږي

((زيـــارمل)) تــــل بيتونه ليکم غـم لړلي
زړه بې تابه وي يـــــودم نه کــــراريږي

سرداړمحمدصديقي

روحــــاني له دي دنيامسافــــــرتللى
زمـــــوږپه غاړه کي دغـــــم ځنځيرلوېدلى

دا چنار دي خــــــدایه ثنګه را چپه کــــــړ

وســـــــايي ته يې پښتون ژوند غــــــوره کړی

روحـــــــاني پردي دنيا باندي ژونـدی دی

سپېري خـــــــاوري تايي تش وجــود ساتلی

ګوره خاوري روحـــــاني په تکليف نـــــکړي

روحـــــاني دخپلي خـــــاوري خدمت کړی

ای غليمه دالاســـــونه دي خـــــدای مات کړه

روحـــــاني دي په ســـــــــرووينو لمبولی

ای دخام فکر خـــــــاونده ثــــه دي وکړه

چــــــادداسي بي عقلي سبق درکـــــــړئ

نن دي ولي روحـــــــــــاني راته شهيد کړ؟

روحـــــاني تازه ګـــــلاب ؤ غـــــوړېدلی

په سرو وینوکي ګلاب ورته خجل وو

روحاني مي پریودا سي حال لیدلی

روحاني تاپه ژوندون پرما ژړلي

نن دي زه دقبرخواته ژړیدلی

داداوښکو سمندردی چي بهیږي

روحاني شهید هرچاته غم ویشلی

دا سفردي مبارک سه بختوره

تاته حورو دجنت ځان سینګارکړی

ای اتله قهرمانه راته وایه

تاته چادداسي مرګ تصمیم تړلی

ای دښکلو عزرائیله څنګه راغلې

پرهرزړه کي دي دهجراوربل کړی

مرګه تمه مي دداسي راتلونکړه

روحاني ګران دی، بې وخته دي غوښتلې

سخت ګذاردي،دې پښتوته دي ورکړ

دادی ولي دپښتوغرنړولی

روحاني دي راشهيد کړپه آرمان کي

نه پوهيږم لادي کوم لمسون منلی

روحاني يوخدمتګارؤ هغه نه مري

ته ناحقه په وژلوغوليدلی

((صديقي)) به وران زړګی په چاودان کړي

روحاني لدې بوستانه ثه وتلی

ښاغلی روحاني

غم او ماتم دي پورته کیږي بیا د ویرږغونه
بیا دي هلمنده خاورو وخوړ تنګي ګلونه

ها زرغونه د پسرلي ښکلا دي چا یوړله
پرشنو باغو باندي دي بل سوه باروتي اورونه

ستا د ښایستو ځوانانو ښکلي ځواني خاورو یوړې
د روحاني رنګه ښاغلي او د سرسرونه

په زړه ظالمه راته وایه چې په کمه ګناه
د روحاني دي کړه نیمګړې د ژوند هوسونه

آخر ورځو به ته وله پاک الله ته، څه به وایې
چي دي کړه سره پدي معصومو وینو تور لاسونه

د هلمند خاوري پر تا څنګه زلزله رانغله

چي پروجود د روحــــــــاني وه دمرمۍ وارونه

آخــــــــــــربه ټوله ځودنیاده لـــه ارمانه سره

دی بخـــتـــورهغه چي پـــــاته یې سوښه یادونه

هـــــــــره خبره یې یادګـــــارد (عمري) پرزړه ده

مولادي ورکي دښایستو حـــــــــورودغېږ خوبونه

---

اروا ښاد شهید روحاني ته !

سمیع الله افغاني- جرمنۍ

هڅه وه ټینګ عـــــــزم ارادو ســــــــــره

ګـــــــــوره دصمد زړه داسرو ســـــــــره

څوک دی چي احساس ته قرباني ورکړي

ودانګي مورچل ته عقیدو سره

ژوند ترخوخوړو چي وي پوخ کړی څوک

اوروه دا احساس بلولمبو سره

پوه هم ښکلایي په زړګي کي وه

خلکو سره ښومرودو سره

عمرچي سي تیرپه ولسونو کي

ګوره دروزګارڅو ورځو شپو سره

ټینګه اراده قوي تصمیم ترڅنګ

ژوندکي شجاعت رازاو مزو سره

مردوي دروزګارچي سربازي کوي

سیندوه سیلاب لوړي څپو سره

مایي افغاني احساس احساس کړلو

مینه دوطن یي خاطرو سره

## دعبدالصمد شهید روح ته ډالۍ:

عبدالوهاب مینه یار- لښکرګاه

تل مي وسترګو ته کړېږي ستا ها ښکلې څېره

چي وه په سرو وینو خونرېزه اولړلې څېره

ته خو هر وخت دځوریدلو په آواز ږغېدې

د هري کونډې او یتیم سره په ناز ږغېدې

هم دظالم او خودخواه پر منفي راز ږغېدې

چاکړه نامداره حقیقت چي وه منلې څېره

ؤ دهلمند روښانه ستورئ وو ځلاند ځلېدۍ

نوم دښاغلي پر هر شعر او هر داستان ځلېدۍ

دروحاني لقب پر ټول افغانستان ځلېدۍ

اوس د ماتم په کلمه هر چا ستایلې څېره

نه ئي د چا سره څه ظلم او څه زور کړئ دی

د کم یو فرده سره د د مرګي پور کړې دی

د عدالت په ترازو ئي تول سمسور کړې دی

د ژورنالیزم په ډګر کي وه سپېڅلې څېره

و مور او پلار ته یي ته ورکړې ربه صبر جمیل

د شهادت جام ورعطا کړي لایزاله جلیل

خدای دي و کونډي او یتیم ته عوض ورکړي کامل

نه مي هېرېږي په خپل ژوند دا ځلېدلې څېره

د شهید روح ته ور ډالۍ دا یو څو بیته اشعار

تر زر کلو عمر مي خوښ د شهادت افتخار

د داسي مرګ آرمان لرم عبد الوهاب ((مینه یار))

بیا شاعران به یادوي زما لېدلې څېره

هو

هغه تورلا سونه

هغه له توروشپو ،اوتوروزړونو

راغزيدلي دلته

هغه چي زموږه روحانيت او(روحاني ) راژوني

هغه دي واړه مات سي

هغه دواړه مات وي

خالق رشيد

ته !

شهید روحاني

محمد علي عمري-مسلم باغ-لرافغانستان

ځواني مرګه شـــهــــــادت دي مبارک سه

ابـــــدي مــــقـــــام جنت دي مبارک سه

دپښتون اولــــــس دعـــــاوي درپسې دي

روحـــــــــاني ستـــرمعنويت دي مبارک سه

خزان

ای کاش چي خزان نه وای

ګل اوبورا تروتازه وای

دغوټۍ په ښکلي غېږکښي

دروحاني شبنم تازه وای

سیدعبد البآري روحاني-کندهار

اروانباد عبدالصمد روحاني ته !
<!--[if !supportLineBreakNewLine]-->
<!--[endif]-->

له دنيا تللی روحاني پردغه لار نه راځي

په دې پوهيږم بيامي هم زړه ته کرارنه راځي

پداسي ظلم دي جامې ورته په وينو سرې کړې

په يادکي سلګۍ

دا حقيقت دی په وعده دي مرګۍ

خوګران لحدته ارماني تللۍ دی

هلمند سلګۍ په وچوشونډوو وهي

چې يې له غبرې روحاني تللۍ دی

دانسان وينه بې ارزښته ګڼي

دحشت زړه راباندې نه يخيږي

دارمانونوجنازې وتلي

دأميدونوخونوم نه يادېږي

لکه ماشوم دوست دښمن نه پېژني

د مرګ وزرلاندي موژوند پتیږي

دا سي ګناه روحاني نه وه کړې

چي په سزا کي يي لحد رسيږي

بېوسه اوښکي مي له سترګو څاځي

په دي پلمه چي دزړه غم ګمېږي

پرحق وينا يي جنازه سوه رهي

پرحقيقت يوقرباني تللی دی

هلمند سلګی په وچوشونډووهي

چي يي له غېږي روحاني تللی دی

د خپل ولس پربېوزليوباندي

په چغوچغوژړيدی روحاني

ځان يي شريک دبل په غم کي کنۍ

چي کله کله مي ليدئ روحاني

د سولي امن په ارمان به وو تل

دجنګ په اورکي سوځيدی روحاني

زموږ خلک ولي پرمختګ نه غواړي

داسې به ماته ږغيدی روحاني

چې يې په ټوله ژوند ليدلی نه وو

له هغو هم نه وو پردی روحاني

نه يې غوښتله د وطن تباهي

نه له دنيا څه تاواني تللی دی

هلمند سلګی په وچو شونډو وهي

چې يې له غېږې روحاني تللی دی

روحاني وړی به دي وي دا ارمان

چې د دوستانو ډک وطن پاته سو

د صداقت بدل يې داسې درکړ

هغه پرهر دي پر بدن پاته سو

هغه هلمند چې يې څپې وهلې

چې کله ته ولاړې غمجن پاته سو

اوس په تصوير دي تنده نه ماتيږي

ستا راسره اخر ديدن پاته سو

ياد دي تازه سا تمه وخت دي تيرسي

زه وايم کلی د رڅه نن پاته سو

پردېس په دې خبره پوه سوم سهي

ځوان په مرمۍ دناځوانۍ تللۍ دی

هلمند سلګۍ په وچو شونډو وهي

چې يې له غېږې روحاني تللۍ دی

دلاورپردېس –لښکرګاه زړه کلا

دروحاني روح ته !

سکوت راغلی خاموشي واکمنه

دانه دانه سوه دأميد خيالونه

نن دتاريخ پرپاڼوولیکل سول

دروحاني دژوندانه يادونه

--

که پښتانه وي خوعادت يې دادی

چې پکښې نه پائي دکارسرونه

چي دغيرت وينه يي وجوشيږي

درومي له موږه وارپه وارسرونه

--

داغسي ده که ماخوب ليدلی

چي دصورت اودحيات بيلتون دی

يوه غميزه ل نغمې اورمه

چي دځوانانونذرانه ژوندون دی

--

فکرونه ستړي ارواحان ستړي دی

دنامعلوم منزل پرخوارهي دي

وړاندي ويل هيڅ څوک کولای نسي

زموږارمانونه نيمه خوارهي دي

--

زړه کي مي اور لمبې لمبې بليږي

که مي تدبيراوتقديردواړه وهي

يادغليم تيره خنجروينمه

يوواړمي ولي بيامي غاړه وهي

--

دروحاني سپيڅلي روح ته مدام

شریعتیار یمه دعالېږمه

وقریبانواودوستانوته ئې

دزړه له کومي تسلي درلېږمه

محمداسماعیل شریعتیار -هلمند ،لښکرګاه

داڅنګه سخت دي ؤ زړګۍ ظالیمه

هیڅ دي په زړه کي بیره نه وه دخدای

تاراخزان کړی مست دمیني بلبل

هغه سپېڅلۍ ؤ ،رښتنۍ زلمۍ

ښهٔ خوش آوازه په رشتیاؤ ققنوس

زموږئي تراوسه لاپه غوږکي آهنګ

هغه بلبل هزار داستان یادوم

چي به شروع سودفریادپه نارو

هرچاته ګډ ؤ ،دپښتوپه ژبه

خاموش ئي سوله دمحفل بلبلان

دهیلو باغ ئي سو نیمګړی پاته

سو مسافر له دي جهانه څخه

د ګلو بڼ ئي د رېږو په اُمید

بي پرو باله وزرماتي مرغه

--

ویاړو پداسي نازولي شهید

چي پخپل وینو یاقوتي ولاړی

هیربه مو نسي تل یادونه دځوان

په ابدي خوب همېشه پریوتی

ومور و پلار ټولو دوستانو ته ئي

صبرجمیل او تسلي غواړمه

روحاني یو وړ له محشر ته تحفه

په نصیب خدای دي کړي حوري غلمان

تل بې ساتمه په زړه کي کي مینه

الفت دداسي بلبلانو لرم

ملګرو وو ایاست په ټولو امین

رب دي تبا کړي سودا ګردوینو

نوردویلو تاب په ماکي نسته

په ترمووا ونښکو کاغذ او را خیستی

محمدلایق سرفراز وایم دا شان

روح تې سلام سلام سلام ورلېږم

محمدلایق سرفراز_هلمند

دصمد روحاني روح ته ! ! !

دلته ساندي او ویرونه

دلته وران ویجاړ کورونه

دا ببرې زړېږ ږیري

دا اوږده ببر سرونه

دا خوله وچې ماشومان

دا په وینو سره قبرونه

دا دچا کمبختو کوردئ

دلته ولي ځوانان ژاړي

دلته څوک دومره کمزوري دئ

زه چي وينم دا خوبست دئ

چي تاريخ وربا ندي مست دئ

دا چا انجير دی لښکرګاه ده

دظالم په سر بلا ده

نو دا نور شين ستر ګي ځوک دي

دوی راغلي له کوم توک دي

هغه نور چي د شپي ګرځي

په کورونو باندي غورځي

دغه دواړه دي وژونکي

دغه دواړه غولوونکي

يو د شپي او بل د ورځي

يو موسروړي او بل پزي

دا ړانده چي دلته ناست دي

داولاړ دي او که ملاست دي

له دوی ټولو نه ځان هير دی

چي دښمن ترې را چاپير دی

دوی دي غبرګ کړي ايوب خان ته

دوی دي غبرګ کړي اکبر خان ته

دوی دي ستر احمد له ورسي

دوی دي غبرګ کړي میرویس خان ته

یادي یو جوړ میرویس خان کړي

د تدبیر په لار روان کړي

چي را بېل کړي دوست دښمن

دیو والي را کړي فن

په بمونو نه جوړیږي

په جنګونو نه جوړیږي

څو پښتون کي سر پیدا سي

څو یو مشر نر پیدا سي

پردي ولیږي خپل کور ته

لاره وښایي خپل ورور ته

نو به سوله په دي کور سي

زړه به جمع لږ د مور سي

بیا به هیڅوک هم نه ژاړي

په صمد باندي به ویاړي

خدمتګار وایي سلام

مبارک سه لوړ مقام

محمد یوسف خدمتګار-ناروې

حاجي محمد امین بآوري_بلجیم

توروتیارو

درنړا ساه واخیسته

ابلیسان بیا په ګډا

خپل دوحشت په کورکي

چي یوه بله روح يي

له مااوتاواخیسته

غوږسه ای ګران هلمند

ستاله څپو

ستاله موجونه قربان

دغه ناپاکه

دابي باکه زړونه

په مرمرینوڅاڅکو

پرېمینځه

او

پاک صفاکړه

اوکه نه

قهرسه

غضب سه

هرهرڅاڅکې دي

دزهروګوټ کړه

دغه کاڼه

دغه دوخت جاهلان

زموږدرڼاله مخي

پوپناکړه

دشهیدروحاني یادونه

سید محمد حیرت لښکرګاه

هلمنده بیادي پرزړه غم سوراستون

نن ستاپه کورکي ګریاني روانه

پرهارپرهارتن يي په وينوګلګون

سوه جنازه دروحاني روانه

**

هلمنده ! بيا دي چمن په اورواخيستې

دبڼ يو ګل دي چاپه پورواخيستې

اوس دي ګلشن کي چادرزيرآوزبون

دبلبلانوپريشاني روانه

**

هلمنده بيا دتوروشپورتېګه دار

مجبوريي کې وتښتېدوته سهار

نه اورم هغه شپېلکونه دشپون

چي بې رمه وه بياباني روانه

**

هلمنده !ستا يوهسي ښکلی زلمئ

په ژورناليزم کي ښاغلی زلمئ

چي ئي کاوه دحقايقو لټون

سوه ئي په برخه قرباني روانه

**

دهلمنده ستاهغه چالاکه ژبه

دکذابته څخه پاکه ژبه

چي بې ژباړه داتلانو مضمون

غرقه بېرۍ سوه زباني روانه

**

هلمنده ستادغاړي هارۇ هغه

هم دي شمله هم دي دستاروو هغه

داظلم چاوکئ دچاپه لمسون

چاکړه داغه بې رحماني روانه

**

هلمنده ستانام ته عزت غواړمه

(حيرت ) ساتنه دي دپت غواړمه

څوچي وفاکوي ترکمه ژوندون

چي وي داغه دنيافاني روانه

ځوانيمرګ عبدالصمد روحاني ته ! !

ستادژوندون دارمانولحظې ميراته نه واى

دتورتوپک سپېره تورمخ ګولې يي تاته نه واى

لاس په ماشه دليوني قاتل ستاخواته نه واى

دځوانۍ غم دي هرزړګي ته ارمان پاته نه وای

***

ته خوکافرنه وې، نمرود نه وې ګناه کې نه وې

مسلمه وروره دچاپوراوبل غوغاکې نه وې

ته خوشاعروې دشاعرزړه دعزت کتاب دی

داړوند قاتل ته دټوپک دخولې سوداخونه وې

**

په وینولژنده زخمي بدن اوتن نه دي جار

مسلمه وروره په سلګوکې ځکندن نه دي جار

دمعصومیت اواز دي لاړودجهان غوږوته

دیوې سولې په ارمان داسورکفن نه دي جار

**

په هدیروکې دځوانۍ مرګونوزوراخیستی

سوله رانغله دپښتون وطن نن اوراخیستی

زموږدمیندودوعاګانولپه تش پاتې سوې

ګمان کومه خدای خفه قهریې زوراخیستی

**

زموږدمیندواوپلرونوودویرونوژړا

له ډیره غمه په ملامات دماتمونوژړا

دناڅاپي ځوانانو لوو کي د مرګونو ژړا

ټغرټول نه سود ستم او ماتمونو ژړا

❁❁

قرآن به و لولو ستا یاد کي به دوعاګاني کوو

د کائناتو واکدار ته تل به زاریګاني کوو

خدایه نور بس ده دا بې وخت مرګونه مه راکوه

دیوې سولي په ارمان به ژړاګاني کوو

❁❁

روح دي ښاد جنت فردوس کي دي مقام غواړمه

د ګلو مینځ کي ناآرام روح ته دي ارام غواړمه

الله دي خاوري مکړه زموږ د ولسو شاعره

(حفیظ) دا وایي ژوندی نوم دي تل مدام غواړمه

زرلښته حفیظ - کابل

شهادت دي مبارک سه غرځنۍ زلمۍ مي مړ دی!
<!--[if !supportLineBreakNewLine]-->
<!--[endif]-->

خدايه ښنګه قرار يوسم يو تنکۍ زلمۍ مې مړ دی

خدايه ښنګه صبروکړم يو کمکۍ زلمۍ مې مړ دی

ماژړلي ډيرپه زوره چې مې دا خبرترغوږ سو

چې صمد روحاني مړ دی ګلالۍ زلمۍ مې مړ دی

ربه دا ښنګه دنياده خدايه څومره خاموشي ده

يوبې وسه يوبې کسه هلمندۍ زلمۍ مې مړ دی

ستاماشوم په چيغوژاړي ترمي اوښکې يي بهيږي

د شهيد بابالارڅاري څه مُسکۍ زلمۍ مې مړ دی

ته خفه نه سې صمده حسرت ډيرپه تاژړلي

شهادت دي مبارک سه غرڅنۍ زلمۍ مې مړ دی

لطف الله حسرت – خوست

معلم محمد موسي يوسفزی_لښکرګاه

نوي ځوان د شهادت جامونه نوش کړه

ژورنالیست د سعادت جامونه نوش کړه

په خفه ئي جهانیان دوستان یي ژاړي

روحاني په صداقت جامونه نوش کړه

لیکوالان او شاعران ئي په ژړا کړل

تازه ګل د عدالت جامونه نوش کړه

اهل کاره نه پر بړدي دا ظالیمان دي

ګران د میني محبت جامونه نوش کړه

مهربانه د هلمند پر خلکو ډیرؤ

مسلکي د ګران ملت جامونه نوش کړه

ژورنالیست ؤ هم شاعرؤ هم لیکوال ؤ

دفردوس ئي دجنت جامونه نوش کړه

و دوستانو ته يې جمیل صبرزه غواړم

خبریال ؤ چي دپت جامونه نوش کړه

ددنیا اوعقبي ګټې ئي یو وړي

ښکلې ځوان دخپل همت جامونه نوش کړه

دشهیدرتبې دي زیاتي په عقبي کي

ګران په وینولت وپت جامونه نوش کړه

حمیدالله هڅیال لښکرګاه

ارمان سوپآنې پانې

ددي جهان رڼا راته هغه دم توره شپه سوه

شهیده ! روحاني دمرګي دي آوازه سوه

پیدا مي په زخمي زړګي کي زخم ناسوري سو

نژدي مي ځکندن ته دژوندون هره شېبه سوه

خزان بې وخته راغئ زمزړه دهيلو وپسرلي ته

ګريوان ته مي روانه هره اوښکه ميلمنه سوه

دزړه مراندي مي پرې سوې چي ته لاړې له دنيانه

شهيد په څومره جبر سوې ضالمه زمانه سوه

چي هره ورځ يي وينم دهلمند دزلمو قتل

زماسپېره تندیه تاکي دغه نوشته سوه

چي کله شوې پناه لدي فاني دنياشهيده

زموږدخوږ ژوندون سپېره جونګړه سره لمبه سوه

خزان دروحاني په ځوانۍ داسي وختي راغئ

ارمان يي پانه پانه سو آرزو يي صدقه سوه

هلمنده ! ستا ترنوم او ترتاریخ یې ځان قربان کړ

مزاریې د مرجې ولسوالۍ کې هدیره سوه

په شاه د ((حمید الله)) وي همېشه د غمو پېټۍ

هڅیاله د خپل خوار نصیب او بخت نه مې ګیله سوه

محمد اکبر فریادي، د بارکزو لویه ناوه

الله دې مل سه روحاني شهیده !

نن دې پردي او خپلوان وژړېدل

څنګه ویده یې ولې رېغ نه کوې؟

غریب غریب افغانان وژړېدل

سرکه راپورته ته روحاني جانانه

ستا ګلالي ماشومان وژړېدل

دغم خزان څنګه پرتاراغلی

په هرګلشن کي ګلان وژړېدل

هغه ببوسه دربدر مهاجر

سول بې عصرې غریبان وژړېدل

ستاکارنامې دهیرېدلوندي

دټول نړۍ نطاقان وژړېدل

محمداکبردرته دوعاکومه

دسترافغان شاعران وژړېدل

عبدالمالک مشفق.

نه پوهیږم چي ولي !!!؟؟؟

نه پوهیږم چي تمامه شپه مي ولي خوب نه راته ،اوپخپل ځای کي ولي اوښتم رااوښتم،یوه شپه راباندي ځوشپې شوې اوخدای خبرچي په مابه داشپه څنګه تیره سوې وي.

سهارشواودملایانو آذانونه پیل شول،پورته سوم او تراودس کولو وروسته مي دسهارلمونځ اداکړ اودوظیفې په لوري رهي شوم کله چي دکارکولودفترته ورسیدم زمایوه ملګري ترسترګې مشي وروسته په ژړغوني آواز راته وویل خبر به نه ئې؟

ماویل څه دي ژرشه راته ووایه !!!هغه راته چي ژبه یې بنده-بنده کیده وویل:

((روحاني شهید سوی هو کي روحاني ش.....ه.....ي.....د سویدی.

ددي خبرپه اورېدلو په ځان نه یم پوه سوی چي څنګه به مي ترخولي چېغه وتلې وي پدي وخت کي دټیلفون زنګونه شول اوله ځایه یاځیدم کتل مي چي جوفې جوفې خلک دشفاخانې په لوري په حرکت کي دي زه هم ولاړم اوچي کله ورسیدم سترګي مي په یوه تابوت ولګیدې اوداتابوت زمادخوږملکري ،هغه ملګری چي تل به یې خوله له خندا څخه ډکه وه –اودژوندټولوستونزوته به یې په سړه سینه غېږه ورکوله خاموشه پروت وو ،هیڅ یې نه ویل اوحتي داخري ځل لپاره ئې هم ماته ونه خندل.

.......خلکو یې تابوت پورته کړ اومافقط دسترګوڅخه دیوځوځاځکواوښکوپه تویولو دده له بې روحه جسمه څخه دلاس په پورته کولوخدای په اماني وکړه اودوه دري ورځې پس مي دخپل قلم په زور دخدای بخښلي عبدالصمدروحاني په یادلاندي بیتونه ولیکل:

-—————-

ژاړي !!!

ځمکه سره سوه طوفاني سوه لاله ژاړي صحرا ژاړي

سپین کفن پري غوړېدلی په لیدوئې آشناژاړي

دسهانسیم خاموش دی آرزوګاني خاوري خاوري

تنکۍ هيلي سپېلنۍ سوې قسمتونه زماژاړي

نه شبنم سته نه ئي گل سته ،نه وگل ته بلبل ناڅي
شمع مړه سوه پتنگ وسو هم مرغان په هواژاړي

خواردميني نذرانه سو اوقسمت په کاښووويشت
نه خندا نه يي جانان سته سرسرتورې ليلاژاړي

يوه جوړه دنياگۍ داخوني درياب لاهوکړه
د((مشفق)) دزړه قفس کي ديادونودنياژاړي

روحاني ملگريه پاڅه خبرنه يې

محمدحسن حقيار

چي وباسي زړونه هغه خنجرنه يې

چي ښځې ويني ته هغه ستمګرنه يې

چي ترې لاس رسي اسمان ته لوړغرنه يې

روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې

خبرنه يې چي هلمندکي څه تيريږي

سرې سکروټې پرمارجې باندي وريږي

دهلمنداسمان لوګيودی پوښلی

داورتاونه دسيندواوبه خوټيږي

چي طوفان جوړکړي ته هغه شررنه يې

روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې

ستاوژونکي اخته داسي يورنځ باندي

چي دوی خونداخلي له ويرنه اوله ساندي

بلوي اور ابراهيم پکښې ګوذارکړي

دفرعون اودنمرود خويونه کاندي

ته تابع دابراهيم يې ازرنه يې

روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې

داسي غواړي چي دحق ژبې دي پرې سي

او معیار د انسانیت د دوی نخرې وي
تش فریاد دي هم د چاڅوک پورته نکړي
توره لاس کي د ظالم سترګي دي سرې وي
خو ملګری ته د دا سي سنګریې
روحاني ملګریه پاڅه خبرنه یې

زړونه یي غوښي ندي کاڼي د صحرا دي
تل مدام د انسانیت پرضد لګیا دي
د ښکلا د ښمنان ټول د لته راغلي
خدای خبر چي د ابد رنګه څه بلا ده؟
ته د دې بې رحمه خلکو عسکرنه یې
روحاني ملګریه پاڅه خبرنه یې

دوی دوینو او انسان سوداګران دي
د پوډرو او وسلو قاچاقبران دي
د ماشوم سترګي، بډوډي او زړه پلوري
خدای بخښلیه ! دا پدې کچه لېوان دي
مړیې ځکه کړې چي ته قاچاقبرنه یې
روحاني ملګریه پاڅه خبرنه یې

ستا وژونکي لري ډېر اوږده لاسونه

پرغمل دي ورسره ډېر ولسونه

ددوی جال خپور دی په ټولې نړۍ باندې

ددوی ښپوکي دي پراته شاهي تاجونه

ته ددوی انډول ،ددوی برابرنه يې

روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې

دوی داوسپني نينې هم شي چيچلی

دوی فولاداوتيږي هم شي هضمولای

دوی حالات شي دخپل ځان تابع کولی

دوی له سترګونه رانجه شي تښتولی

ته لاپوه په دغه چل اوهنريې

روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې

تارسواکړل دوی په خپلوراپورونوکي

غرېدې يې په موټرواوقصروکي

دمختاردکمپ اواز دي ولي لوړکړ؟

اوس ښتېږه دي دوينو فوارو کي

ستاغږ کنده کي دی لاهم کمرنه يې

روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې

څوک کوښښ کوي غچ اخلي دميوند

څوک مافيا سره لري قوي پيوند

څوک اوبه خړوي نيسي خپل کبان

څوک دجنګ له برکته کوي ژوند

تنهاته ددې حالاتو کسکرنه يې

روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې

دانسان غوښې کړي ځانته سيخ کباب

ويني واړوي په سرلکه شراب

په نشه کي يي چي ترنګ نه ونځېږي

له کولمونه يي کړي جوړ ځانته رباب

که له دوی سره شوې جونو خطرنه يې

روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې

ناپوهي او جهل دلته کرل کيږي

دښوونکي، زده کوونکي سرغوڅېږي

دوی مريخ او زحل ځانته تابع کړي

خوزمونږ ختيين ښوونځي سوځل کيږي

دروانې ډرامې کرکترنه يې

روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې

روحاني صاحب دلته جنګ دی دفيلانو

دسيالۍ ميدان سو داد شيطانانو

ازمونتون يې دتخنيک او دوسلو سو

ژوند دوزخ سو دښېې لوڅو انسانانو

شکرداچې اوس پدغه سقرنه يې

روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې

مستند فلمونه دلته ډيرجوړيږي

دجنګي فلمولپاره اوربليږي

هاليووډ اوباليووډ دلته مصروف دي

دافلمونه ډيرقيمته پلورل کيږي

ته آګاه د دې منطق په زېرو زور نه يې

روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې

دلته جنګ دی د تاريخ او کولتورونو

دلته جنګ د تمدن او مذهبونو

سوي بيا د صليبي جګړو اعلان دی

دلته جنګ دی د ځواکمنو چينلونو

لا آګاه يې په د ېوان او دفترنه يې

روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې

دلته ډېرو سله والو لاهم نه پوهيږي

چي د کوم هدف لپاره وژل کيږي

دلته لاره لوری ورک دی له ولسه

پټي سترګي، واګي بل سره ځغليږي

کړه راويښ يي که څه هم پيغمبرنه يې

روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې

چي وژلي يې لکونه افغانان دي

هماغه مو اوس په سربیا حاکمان دي

دغریبانو په قاموس کي داسي وايي

((چي ددوی وي نو همدا بشردوستان دي))

ته ددې قانون له مخي بشرنه يې

روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې

په مرکزکي انسانان تېښتول کيږي

دجمهوررئيس مرستيال يې وژل کيږي

دځنګل قانودی شهرناپرسان دی

وکيلان، لوی څارنوال ډبول کيږي

ته خودوی نه په رتبه کي بهترنه يې

روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې

دلته حق ويل پخپله خودکشي ده

دعزت اودشرف کارجاسوسي ده

ډک له ګټې تجارت بې ناموسي ده

پلمه جوړه ده قانون ديموکراسي ده

نوبه څنګه دحالاتو اثرنه يې

روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې

دلته زبي له طوطيانونه غوځيږي
بلبلان ته رانجه ورکول کيږي
ته جرس وې تاکاروان راويښولو
نوستاداجسارت کله زغمل کيږي
ته خودوی ته عاشورايې اخترنه يې
روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې

ستاوژونکي په رينجروکي ګرځيږي
په شاهي ميلمستونونوکي اوسيږي
داسي نده چي الوتي په هوادي
لښکرګاه کي هروخت ښکته پورته کيږي
نيول کيږي ځکه نه چي رهبرنه يې
روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې

ستامعصوم وړونه مي کله نه هيريږي

چي کوم خړپړوينم دوی را ته ياديږي

چي (رشاد )او(تقوا ) ونيسم غېږکي

نو(سپوږمۍ ،عمران )مي سترګو ته ودريږي

وي ستانوم به پرې ژوندۍ بې ثمرنه يې

روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې

غرونه سپک اوستاغمونه ترې درانه وو

په هلمندکي دهيچاګربوان وچ نه وو

خوماهلته دفولادويوکان وليد

ستاباتورپلارچي په مثل دتورغره وو

ته شهيديې،مړدده په نظرنه يې

روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې

(ستانکزيه ) ،(هجران ) ،يې دا(تسل ) دی

چي (روښانه ) (سباوون ) ددې اجل دی

چي ترشايې وي (صالح ) کاروان تري پاتي

(نادم ) ندی (بريالۍ ) دی دااتل دی

چي (شفيع ) دي شي ته خوښ په محشرنه يې

روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې

(پاڅون )وکړه که رښتيا (شريعيتار ) يې
ای(زاهده )که (داعي ) دخدای دلاريې
د(روما )اود(غذرا )اوښکي کړه پاکي
(ماريې ) ته يې دغه وخت په کاريې
تار اوستن واخله شلېدلی ټټرنه يې
روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې

خفه نشې روحاني له سترې قامه
يوهم نه دی غافل ستاله انتقامه
دتيارې مقابلې ته به وردانګي
درڼاتوره راباسي له نيامه
سپېڅلنی به نوردغه مجمرنه يې
روحاني ملګريه پاڅه خبرنه يې